صلاح الدین سعیدی ۲۰۱۷/۰۲/۱۹

# د جناب حکمتیار

## په هکله د هغه پر اعلامېی زما غبرګون

الله تعالی دې افغانستان کې سوله او استقرار راولي. سوله او استقرار د افغان ملت حق دی. مونږ او د اجتماعي علومو اصول وایو او ویلي دي چې په یوه ټولنه کې هغه وخت سوله او استقرار راتللای شي چې د هغه هیواد او ټولنې سیاسي ستیج د هغه ټولنې د سیاسي طبعي ځواکونو لخوا ډک او په دغه ستیج کې خلاوې نه وي. د جناب حکمتیار په مشرۍ د افغانستان په سیاسي ستیج کې خلا او نه شتون د افغانستان د ملت د غمیزې د اوږدیدو او د حاکمیت د غیر مشروع والي سوالونه مطرح کړي او مطرح دي.

نو سیاسي مصالحه او سیاسي جوړه روغه یوبل ته د خبر او خیرات مسأله او د انتخاب مسأله نه ده او نه وه. دا یو ضرورت وه او ضرورت دی.

سیاسي مصالحه، جوړه او روغه د جوانبو بې هویته کول او یو بل ته د اصولونه د خیانت او تسلیمي او په دې توګه خپل آرمان ته د خیانت او د حق د لارې شهیدانو ته د توهین مسأله، خبر او تأکید هم نه دی. سیاسي جوړه روغه د امتیاز ورکولو او امتیاز اخیستلو توافق هم نه دی او حزب اسلامي په دغه روستي توافق کې د افغان- کابل حاکمیت نه کوم امتیاز او څوکۍ هم ونه غوښتله. د چوکۍ غوښتل او داسې مطالبه سیاسي ګوند ډېر وړوکی کوي چې حزب اسلام دا کار ونه کړ.

سیاسي روغه جوړه د مبارزې متمدن کول او د مقدس هدف ته ددین په نامه د هغه نادرسته او ډېر زوږ او تاریخ وهلي تأکید بطلان شمېرل دي چې وایي: الحق لمن غلب. حق د هغه دی چې غالب شي او یا غالب وي. د سیاسي روغي جوړې خبر او تأکید د متخلف او ملت دشمنه حق ناشناسه او تجاوزګرو سیاسي ځواکونو تجرید په ملت او له ملته دی. سیاسي مصالحه او روغه جوړه هغه هڅه ده چې په عالم اسباب کې د ټوپک معقولې کتې اخیستو سره سره د باعزته سولې او ټیکاو لپاره کار او د رسالت خپله برخه اداء کول دي.

افغان ولس د سولې او استقرار ته د رسیدو په لار کې متحدین څوک او موانع کومې دي چې دا هم د مشکل او کړکیچ د حل په لار کې درکول او پیژندل د حل لپاره مهم مطالب او مباحث دي.


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

د سولې ضد مختلفو، ځواکمنو حلقاتو او عناصرو شتون او د هغوی تجربې د افغانستان د کړکیچ او تراژېدی په اړه مونږ ته دا امر کوي چې د افغانستان د سولې او استقرار په پروسه کې باید سخت هوښیار، حساس او هر قدم کې د الله تعالی په اتکا باشهامته او کوټلې ګامونه واخلو. له یوې خوا سخت هو خورا سخت محتاط او له بلې خوا د پوره احتیاط سره سره توکل په الله تعالی او اسلامي، با شهامته او با جرئته قدمونه او مواضع غوره کړو. هیڅ مرجع او هیڅ څوک باید و نتوانیږي چې مونږ په قهر او احساساتي کړي. د مشرانو او رهبرانو حضور او وجود او د هغو مواضع او د وقت صرف باید هغه موارد کې وي چې د هغوی ضرورت هلته وي، کار او هدف ددغه مشرانو اظهارات او مواضع باید په مرکزي ډول ددغه سترو اهدافو او موخو په اړه او د چاد احساساتي جهت ورکونې نه مبرا وي.
نو مونږ په کلکه د جناب ګلبدین حکمتیار په مشرۍ د حزب اسلامی روستي سیاسي توافقات د کابل له حاکمیت سره د ټولو تېرو تجاربو سره سره ملاتړ کوو او هغه د افغان ولس، افغانستان، سولې او اسلام په ګټه بولو.

مونږ په دې باور یو او دا مو حق دې چې د حزب اسلامي د مشر د صحت او د سولې د پروسې د انکشاف او ممکنو موانع په هکله خبر شو او معلومات ولرو. دا علاقمندي او دا تلوسه حتمي نه ده چې منفي انګیزه ولري. مونږ د سولې د پروسې لېوالان او د افغان وژنې او دغه ملت د تراژیدۍ د ختمېدو غوښتونکي حق لرو د خبر او سولې د پروسې ثمر رسیدو انېدونه لرو او د دې پروسې د بازیګرانو ژوند،مریضي او مرګ راته د سولې او استقرارپه تحقق کې اهمیت لري او مهم دي.

نو پوښتنې، سوالونه او تشویشونه لرو دا موحق دی چې په سړه سینه جواب او متناسب مالومات راکړل شي.

زما په سوچ، محاسبې او آند په دغه هکله مالومات د قهر، غوصې، افراط او تفریط نه پرته. او هغه هم په سړه سینه د نطاقانو لخوا کفایت کاوه او د جذباتي خبرو کول راته ضرورت او ګټور نه ښکاري. زه تشویش لرم که دښمنان وکولای شي مونږ داسې جذباتي اظهاراتو ته جلب او وکاږي نو ددې د فتنو او حیلو نه ډکې زمانې کې چې ډېر منزلونه لا و مخ ته دي، مونږ زر د افراط او تفریط خواته وکاږي او دا د اسلامي نهضت، د افغانستان د سولې او رغونې او سیاسي تفاهم په ګټه به نه وي ! و ما علینا الا البلاغ المبین